**د جمهوررئیس براک اوباما وینا**
**په افغانستان او پاکستان کې د پرمختګ لار**
**ویست پوینټ، نیوپارک**
**ډیسمبر ۱، ۲۰۰۹م کال**

ماښام مو په خیر! دامریکا عسکری شاګردانو، دامریکا دوسله وال پوځ نارینه او ښځو او زما هیوادوالو امریکاپانو.
زه نن شپه غواړم چې له تاسی سره، په افغانستان کې زموږ دهڅو په باب خبری وکړم. په دې خبرو کې هلته زموږ دتعهد څرنګوالی، زموږ د ګټو اندازه، او هغه ستراتیژی شامله ده چې زما اداره به یې تعقیب کړی ترڅو دا جګړه یوې کامیابی نتیجی ته ورسیږی. دا زما لپاره دویاړ ځای دی چې زه دلته - په ویست پوینټ - کې داکارکوم. دلته ډیر نارینه او ښځی ددې لپاره چمتو شویدی چې زموږ د امنیت د ساتنی لپاره ودریږی او دهغه څه نمایندګی وکړی چې زموږ د هیواد په برخه کې ترټولو غوره کاردی.

ددغو مسایلو لپاره د لارې لټولو، په ترڅ کې دامهمه ده چې هغه مسایل راپه یاد کړو چې امریکا او زموږ متحدین ولی دیته اړشول چې په افغانستان کې جګړه وکړی. موږ دا جګړه نده غوښتلې. د ۲۰۰۱ م کال د سپتمبر په ۱۱مه ۱۹ کسانو څلور الوتکی برمته کړلی او په داسی توګه یې وکارولی چې نیژدی ۳،۰۰۰ زره کسان قتل کاندی. هغوی زموږ په مهمو نظامی او اقتصادی مرکزونو باندی حمله وکړله. هغوی بیګناه نارینه ، ښځې اوماشومان دهغوی قبدی، قوم او ځای ته له درناوې او پاملرنی نه پرته له ژوند نه بی برخی کړل.

که چیرې دهغو الوتکو د مسافرانو له جملی نه دیوې الوتکی مسافوانو له قهرمانی نه کار نه وای اخیستی نو هغوی، په واشنګټن کې زموږ ددیموکراسی په یوه ستر سمبول او نښه باندی هم حمله کړې وه او ډیر نور کسان به یې وژلی وو.

لکه څنګه چې موږ ته معلومه ده، دې کسانو له القاعده سره تړاو درلود ــ هغه افراطیان چې اسلام، د نړی یو ستر دین یې ددی لپاره مسخ اوملوث کړیدی؛ چې د بیګناه انسانانو قتل توجیه کړی. د القاعده، د عملیاتو مرکز په افغانستان کې و. هلته دطالبانو په واسطه دهغوساتنه او پالنه کیدله. طالبان هغه بیرحمه، ځیونکی او تندروه ډله ده چې دهیواد واک او اختیارېې هغه وخت ترلاسه کړ چې د پخوانی شوروی اتحاد د څو کلونو اشغال او کورنی جګړې نه وروسته وران ویجاړ شوی و. او دامریکا او زموږ دمتحدینو توجه بل لوری ته اووښتی وه.

د ۲۰۰۱ م کال د سپتمبرد ۱۱می نه یو څوورځی وروسته کانګریس د القاعده او هغوکسانو خلاف چې هغوی ته یې پناه ورکړی وه دقوی د استعمالو لو صلاحیت ورکړ. ددغه صلاحیت نه کار اخیستل، ترنن پورې دوام لري. دامریکا دمشرانو په جرګه کې په دې برخه کې ۹۸ رایې د صفر په مقابل کې ورکړل شوی وی. په اولسی جرګه کې ۴۲۰ رایې دیوې په مقابل کې ورکړل شوی وی. ناټو په خپل تاریخ کې، د لومړی ځل لپاره له پنځمې مادی نه کار واخیست. دناټو پنځمه ماده دا تعهد بیانوی او وایې چې په یوه غړی هیواد باندی حمله کول په ټولو باندی حمله ګڼل کیږی. دملګرو ملتونو دامنیت شوری د ټولو ضروری ګامونو اوچتو ل منظور کړل چې د سپتمبر د ۱۱می بریدونو ته ځواب ورکړل شی.

امریکا اوزموږ متحدین او نړی دیوه قوت په توګه عمل کاوه چې دالقاعده تره ګره شبکه خرابه کړی او زموږ ګډ امنیت خوندی کړی.

دکورنی اتحاد د بیرغ لاندی او دنړیوال مشروعیت سره ــ هغه هم یوازې هغه وخت چې طالبانو له دینه انکار وکړ چې اسامه بن لادن وسپاری ـــ موږ خپل عسکر افغانستان ته ولیږل. دڅو میاشتو په موده کې القاعده خوره وره شوه او ډیرغړې یې ووژل شول. طالبان له قدرت نه وغورځول شول، په شا وتنبول شول او له ډیر نیژدی نه تعقیب شول. هغه ځای چې له څو لسیزو راهیسی یې یوازې ویره پیژندله اوس ابنده ته دامید لپاره دلیل درلود. هغه کنفرانس چې دملګرو ملتونو له خوا دابرشو په هغه کی حامد کرزی دیوه موقت حکومت جمهوررئیس شو. دایساف یا دامنیت ساتلو نړیواله قوه تاسیس شوله چې دغه جنګ ځپلی هیواد ته دیوې دوامداره سولی دراوستلو په برخه کې مرسته وکړی.

د ۲۰۰۳ م کال په اولو مياشتوکې يوه پريکړه وشوه چې په عراق کې دويمه جګړه شروع کړی. دعراق د جګړی په باب سخت او جنجالی بحث ښه مشهور دی او بيا يې تکرار ته حاجت نشته. دابه کافي وی چې وويل شی چې دراتلونکو شپږو کلونو لپاره دعراق جګړی زموږ دعسکرو غټه برخه ، منابع ، ديپلوماسی او زموږ ملی توجه ځانته واړوله. دعراق د جګړی کولو فيصله ددی سبب شوه چې دامريکا تر منځ او د نړی په ډيری برخی کی درزونه او اختلافات پيداشي.
نن له فو ق العاده لګښتونو نه وروسته، موږ په عراق کې د پرمختللو لاره پيدا کړيده. لکه څنګه چې ما له جمهوری رياست نه مخکی او وروسته وعده کړی وه موږ دعراق جګړه په مسولانه توګه پايته رسوو. موږ به خپل جنګی غونډونه دراتلونکی اوړی تراخره پوري راوباسو او خپل ټول عسکر به د ۲۰۱۱ م کال تراخره پورې راوباسو. داکار چې موږ کوو په خپله په عسکر ی خدمت کې زموږ د نارينه او ښځو د شخصيت يو مثال دی. دهغوی د جرئت ، استحکام او استقامت له امله موږ عراقيانو ته دا فرصت په لاس ورکړيدی چې خپله اينده جوړه کاندی. موږ په کامياب ډول عراق ، دعراق خلکو ته سپارو.

په داسی حال کې چې موږ په عراق کې په پوره زيار يوڅه معيارونه او کارونه اجراکړيدی، په افغانستان کې حالت خراب شويدی. وروسته له هغه نه چی، د ۲۰۰۱ او ۲۰۰۲ ترمنځ موده کې، القاعده ، د سرحد په لاره پاکستان ته په تيښته ولاړله، هلته يې د ځان لپاره خوندی ځايونه تاسيس کړل. که څه هم دافغانستان خلکو يو مشروع حکومت انتخاب کړی و خو دادارى فساد ، مخدره موادو تجارت، کم انکشافه اقتصاد، او ناکافي امنيتي قواو له امله دهغه د موثريت مخه نيول شويده.
دتيرو څو کلونو په موده کی طالبانو له القاعده سره مشترک هدف پاللی دی، څکه دادواړه دکابل درژيم رانسکورول غواړی. په تدريج سره طالبانو د افغانستان په خاوره باندی دواک او اختيار منځته راوستلو چاری پيل کړيدی. په عين حال کې ، د پاکستان د خلکو خلاف دترهګری د ډيرو براﻻ تخريبی اعمالو په تر سره کولو بوخت دی.

په دې موده کې ، زموږ دعسکرو شمير په افغانستان دهغو عسکرو د شمير يوه کوچنی برخه وه څومره چې په عراق کې دی. هغه وخت چې زه جمهوررئيس شوم نو په افغانستان کې تر ۳۲،۰۰۰ زرو نه لږ زياتو امريکا يانو خدمت کاوه. ددې په مقايسه په عراق کې د جګړی په سخت وخت کې دهغوی شمير ۱۶۰،۰۰۰ ته رسيده. په افغانستان کې قوماندانانو څو څو ځلی د نورو عسکرو غوښتنه وکړله چې په دغه هيواد کې د طالبانو له بيا راپورته کيدلو سره مقابله وکړی. خو د پام وړ تازه دم قواوې ورونه رسيدلی. همدا سبب و چې کله زه جمهوررئيس شوم نو ما هغه غوښتنه چې له پخوانه دنورو عسکرو د ليږلو لپاره شوی وه منظور کړله. وروسته له هغه چې ما له خپلو متحدينو سره سلا مشوره وکړله، ما هغه وخت يوه ستراتيژی اعلان کړله او په هغې کې مې دا څرګنده کړه چې په افغانستان کې زموږ د جګړی د هڅو ترمنځ او په پاکستان کې د افراطيانو دخوندی ځايونو ترمنځ بنيادی تړاو موجوددی.

ماهلته يو هدف وټاکه چې په محدود ډول داسی تعريف شوی و: ( دالقاعده او دهغوی د افراطی متحدينو ګډوډول، تخريبول او ماتول) او وعده مې وکړله چې خپلی ملکی اونظامی هلی ځلی به يهښه توګه سره منظمی کړو .
له هغه وخت راهيسی موږ په يوڅو مهمو مقاصدو کې پرمختګ کړيدی. دالقاعده او طالبانو معتبر غړی وژل شويدی. موږ په القاعده باندی په ټوله نړی کې فشار زيات کړيدی. په پاکستان کې د دغه هيواد پوځ خپله ستره تهاجمی حمله پيل کړيده. په افغانستان کې موږ او زموږ متحدينو طالبانو له دې نه ايسار کړل چې هغوی د جمهوری رياست لپاره انتخاباتو مخه ونيسی. که څه هم په دغو انتخاباتوکې تقلب شوی و خو ددغو انتخاباتو په نتيجه کې يوداسی حکومت منځته راغی چې دافغانستان له قوانينو او اساسی قانون سره برابردی.

ستری ستونزی لاتراوسه هم پاتی دی، خو افغانستان له لاسه ندی وتلی. خو د څو کلونو راهيسی بيرته په شاروان دی. د حکومت دنسکورولو ښکاره خطر نشته . خو طالبانو زور اخيستی دی. القاعده په هغه شمير په افغانستان کې اوس نشته څومره چې د سپتمبر د ۱۱مى نه مخکی وه. خو هغوی خپل خوندی ځايونه د سرحد په اوږدو کې ساتلی دی.

ددی په ځای چې دکار دخلاصولو په خاطر مخ په وړاندی اقدام وکړی زموږ قواوی هغه بشپړ ملاتړ نلری چې دوی ورته ضرورت لری چې په موثره توګه دافغانستان قواوی وروزی او دهغوی له امنيتی قواوسره شراکت وکړی او د خلکو لپاره په ښه توګه امنيت برابر کړی. په افغانستان کې زموږ قوماندان جنرال ستانلی مک کوپستل رپوټ ورکړيدی چې په افغانستان کې امنيتی حالت ترهغه نه چه ده اټکل کاوه زيات خراب دی. لنډه داچی روان حالت ددوام وړندی. دعسکری شاګردانو په حيث تاسی په خپله خوښه د خطر په دې وخت کې حاضر شوې ياست چې خدمت وکړئ. په تاسی کې يوشمير کسانو په افغانستان کې جګړه کړيده. په تاسی کې به ډير هلته وګومارل شی. تاسی په ما حق لری چې يوداسی ماموريت

درکړل شی چې په واضحه توگه تعریف شوی وی او ستاسی دخدمت لیاقت او وړتیا ولری. همداسبب دی چې کله دافغانستان انتخابات تکمیل شول ماپه دې ټینگار وکړ چې زموږ په ستراتیژی باندی بوه بشپړه کتنه وشی. اجازه راکړی سپینی خبری وکړم: زما په مخکی داسی تقاضا نه وه پرته چې له ۲۰۱۰ نه مخکی دعسکرو د زیاتوالی غوښتنه وکړی. نو په دې توگه نه په دې کی کوم ځنډ راغلی او نه د جگړی لپاره له ضروری منابعو نه د ستراتیژی دکتنی او غور په خاطر انکار شوېدی.

ددې په ځای دغی کتنی ماته فرصت برابر کړ چې سختی پوښتنی وکړم او په ټولو مختلفو لارو باندی دخپل ملی امنیت له ډلی سره بو ځا ې غور وکړم. په دې کې زموږ له نظامی او ملکی مشرانو سره په افغانستان کې او زموږ له مهمو متحدینو سره سلا مشوری شاملی وی. دهغو خطرونو په نظر کې نیولو سره چې په دې ماموریت کې موجود دی دامریکا خلکو او زموږ عسکر و په ما دا حق درلود چې په دې کار کې پوره غور او څیړنه وشی.

داکتنه اوس بشپړه شوېده. ما دقواو د اعلی قوماندان په توگه عزم کړېدی چې دا زموږ د ملی گټو لپاره حیاتی اهمیت لری چې افغانستان ته ( ۳۰،۰۰۰) نور عسکر د ۱۸ میاشتو ، محدود وخت، لپاره واستول شی. له دغه وخت نه وروسته به زموږ عسکر کورته په راستنیدلو پیل وکړی. داهغه منابع دی چې موږ دیته ضرورت لرو چې دهغوپه واسطه ابتکار په لاس کې واخلو ؛ په داسی حال کې چې دافغانستان امنیتی قابلیت تعمیر کړی شی، هغه به دیته اجازه ورکړی چې د افغانتسانن نه زموږ دقواو د وتلو لپاره بومسوولانه عبوری پړاو برابر شی.

زه دا فیصله په اسانی سره نه کوم . ماد عراق له جگړی سره مخالفت وکړ. ددې سبب په دقیقه توگه دادی چې زه په دې عقیده یم چې موږ باید دنظامی قوې په استعمال کې له محدودیت نه کار واخلو او هر وخت د خپلو اعمالو د اوږدی مودی په نتایجو باندی غور وکړو. اته کاله کیږی چې موږ دانسانی ژوند اومنابعو په غټ قیمت باندی په جگړه بوخت یو. دعراق او تروریزم په سر باندی د څوکلونو د بحث له امله ، زموږ ملی وحدت او امنیت ته زیان رسیدلی دی او ددغو هڅو لپاره یې زښت ډیر گوندی او سره جلا شوی مآحول برابر کړیدی.

د ستر اقتصادی رکود له دوری نه راپه دې خوا له ډیرو بدی اقتصادی شخړوسره مخامخ شولو. دا د بوهیدلو وړده چې دامریکا خلک په دې باندی تمرکز کوی خپل اقتصاد په پښو ودروی او په خپل هیواد کې خلک په کار وگوماری.

ترټولو مهمه داده چې دا فیصله له تاسی نه نور هم غواړی، هغه پوځ چې ستاسی له کورنیو سره یې همدا اوس هم ترټولو درانه بار ته اوږه ورکړېده. د جمهوررئیس په توگه ما دهر امریکا یې کورنی ته دتسلیت بو لیک لاسلیک کړېدی چې په دغو جگړو یې ژوند قربان شوېدی. ما هغه لیکونه لوستی دی چې د هغوعسکرو میندو او پلرونو او کورنیو راته لیکلی دی چې په عسکر ی خدمت گومارل شوېدی. ما د ډوور سیمی ته سفرکړېدی چې په بیرغ کې تاوشوی د اتلس امریکا یانو مړی په تابوت کې ووینم چې کورته خپلی وروستی استراحت گاه ته راستنیږی.

ما په خپله د جگړی وحشتاکی اغیزې لیدلی دی. که چیرې ما دانه لیدلی چې دامریکا دمتحده ایالاتو امنیت او دامریکا د خلکو مصونیت په افغانستان کې په خطر کې دی ما به په ډیره خوشالی امر کړی وای چې هریو عسکر بیرته سباته کورته راشی.

نو په دې توگه ما دافیصله په اسانی نده کړی. زه په دې قانع یم چې زموږ حیاتی گټی په افغانستان او پاکستان کی په خطر کې دی. دا د متشدد افراطیت مرکز دی چې القاعده ترینه کا راخیستی دی. او په موږ باندی له همدی ځای نه د سپتمبر په ۱۱مه حملی شوی وی. له همدی ځای نه ، په داسی حآل کې چې زه خبری کوم دنویو حملو دسیسی او پلانونه جوړیږی. داخوشی خطر ندی او نه کوم فرضی گواښ دی. په تیرو څو میاشتو کې ، موږ څو تنه افراطیان په خپلوسرحداتوکې نیولی دی چې دافغانستان له سرحدی سیمونه رالیږل شوی ووچې دترهگری نوی اعمال سرته ورسوی. که چیری داسیمه بیرته په شا ولاړه شی نو داخطر به نورهم زیات شی او القاعده به له مجازاتونه پرته خپل عملیات کوی. موږ باید په القاعده باندی فشار ته دوام ورکړو. ددی کار دکولو لپاره باید موږ په سیمه کې د خپلو شریکانو ثبات او امنیتی قابلیت زیات کړو.

په دې کې هیڅ شک نشته چې دابار بوازې زموږ ندی. دابوازې دامریکا جګړه نده. د سپتمبر د ۱۱می نه را په دېخوا دالقاعده خوندی ځاېونه د لند ن ، عمان او بالی خلاف د حملو منبع اومرکز دی. دافغانستان او پاکستان دواړو حکومتونه او خلک له خطر سره مخ دی. په اټومی وسله سنبال پاکستان کې خطر لا زیات دی. ځکه موږ پوهېږو چې القاعده او نور افراطیان په اټومی وسلو پسی ګرځی اوله موږ سره په دې برخه کې ډېر دلایل شته دی چې هغوی به یې استعمال کړی. داحقایق موږ دېته اړباسی چې د خپلو ملګوو او ومتحدېنوسره په ګډه عمل وکړو. زموږ مهم مقصد اوس هم عین مقصد دی : " دالقاعده ګډوډ ول، تخرېبول، او په افغانستان او پاکستان کې هغو ته ماتې ورکول او هغوی د قابلیت داسی مخه نیول چې امریکا اوزموږ متحدین په اینده کې له یوه هیواد نه هم تهدید نکړی شی."

ددغه مقصد د ترسره کولو په خاطر به موږ په افغانستان کې لاندی اهداف سرته ورسوو : موږ باید القاعده د سیب له ځای نه محرومه کړو. موږ باید د طالبانو د پرمختګ مخه ونیسو او دېته یې پرې نږدو چې دافغانستان حکومت را وپرزوی. موږ باید دافغانستان دامنیتی قواو قابلیت او حکومت تقویه کړوچې هغو ی وکولی شی چې دافغانستان داینده لپاره دمخکښ مسوولیت په غاړه واخلی.

موږ دا اهداف په دری ډوله لاسته راوړلی شو. او ل باید موږ یوه داسی نظامی ستراتیژی تعقیب کړو چی د طالبانو اوسنی پرمختګ ته ماتې ورکړی او دا فغانستان د ٔحکومت امنیتی قدرت په راتلونکو ۱۸ میاشتوکې زیات کړی. هغه دېرش زره نور عسکر چې نن شپه یې زه د لیږلو اعلان کوم، هغوی به د ۲۰۱۰ م کال په لومړی برخه کې وګومار ل شی. داکا ر به ترهغه چټک وی چې مخکی یې اټکل شوی و. هغوی به وکولی شی چې بغاوت خپل هدف وګرځوی او د مهمو ملکی مراکزو امنیت خوندی وساتی. دا به زموږ قابلیت زیات کړی چې دافغانستان لپاره مستعد امنیتی قوت وروزو. له هغوی سره به شراکت وکړو چې نور افغانان هم جګړی ته ور داخل شی.

هغوی به له دې سره مرسته وکړی چې داسی شرایط دامریکا د متحده ایالاتو لپاره برابر کړی چې مسوولیت افغانانوته وسپاری.

څرنګه چې دا نړیوالی هلې ځلی دی. ما په دې ټینګار کړیدی چې زموږ تعهد سره زموږ د متحدینو ونډه هم ملګری شی. یوشمیر مرستی همدا اوس هم برابری شویدی اوموږ باور لرو چې په راتلونکیو اونیو کې به نوری مرستی هم وشی. زموږ متحدین په افغانستان کې زموږ ترڅنګ جنګیدلی دی، وینه یې ورکړیده او مړه شویدی. اوس باید موږ په ګډه سره راټول شو اودا جګړه په کامیابی سره پای ته ورسوو. ځکه چې په دې جګړه کې یوازې دناټو قابلیت او اعتبار له خطر سره مخ ندی، بلکه زموږ د متحدینو امنیت په خطر کې دی او دنړی مشترک امنیت په خطر کې دی.

په ګډه باندی به دامریکا نور عسکر اونړیوال عسکر موږ ته دافرصت راکړی چې دافغانستان امنیتی قواوته مسوولیت سپارلو کار ګړندی کړو. په همدی توګه به موږته اجازه راکړی چې له افغانستان نه دخپلو قواو را ایستل د ۲۰۱۱ کال په جولای کې پیل کړو، لکه څنګه چې موږ دا کار په عراق کې پیل کړیدی. موږ به دا عبوری پړاو په مسوولانه توګه عملی کړو په دې کې به موږ دهغه وخت شرایط په نظر کې ولرو.

موږ به دافغانستان امنیتی قواوته د سلامشورو اومرستو ورکولو ته ادامه ورکړو چې داخبره یقینی شی چې هغوی په اوږده موده کې کامیاب شي. خوداخبره به دافغانستان حکومت ته واضح وی اوتردی مهمه داده چې دافغانستان خلکو ته به واضح وی چې په نهایت کې به دوی په خپله د خپل هیواد مسوولیت په غاړه لری.

دوهم، موږ به د خپلو ملګروسره کار وکړو. موږ به د ملګرو ملتونو او افغانانو سره یوه موثره ملکي ستراتیژي تعقیب کړو، تر څو د افغانستان حکومت د بهتره امنیت څخه ګټه واخلي. دا کوښښ به پر کار او فعالیت باندي تکیه ولري. د سپین چک د ورکولو ورځې ختمې سوې دي. سم جهت ته د حرکت په ارتباط ، د جمهوررئیس حامد کرزي د لوړې د مراسمو وینا ښه او سم پیغام لاره. د بېمختګ د یون په ترځ کې، موږ به د هغو خلکو سره سپیني خبرې وکړو کوم چې زموږ کومکونه ترلاسه کوي. موږ به د افغانستان د هغو وزارتونو، والیانو، او محلي مشرانو ملاتړ وکړو کوم چې خلکو ته خدمت کوي او د اداري فساد سره مبارزه کوي. موږ به دغه راز د کرهنې او نورو داسې ساحو کې مرستې وکړو کوم چې د افغانانو په ژوندانه کې نېغ په نېغه تاثیر لري.

د افغانستان خلکو د څو لسیزو په ترڅ کې تشدد او مرګ ژوبله ګاللي ده. دوی د شوروی اتحاد لخوا اشغال شوي وو، او بیا وروسته القاعدې اشغال کړل چې د دوی خاوره یې د خپلو مقاصدو لپاره کاروله. نن شپه، زه غواړم چې افغانان پدې پوه شي چې امریکا نیت لري چې د جنګ او کړاو دغه دوره ختمه کړي. موږ ستاسو د ملک په اشغالولو کې هیڅ ګټه نلرو. موږ به د افغانستان د حکومت د هغو هلو ځلو ملاتړ وکړو چې د هغو طالبانو سره د روغې جوړې خبرې پیل کړي چې تشدد وغندي او د خپلو خلکو د بشر حقوقو ته احترام ولري. موږ به د افغانستان سره د متقابل احترام په رڼا کې ملګرتیا وساتو، او هغه خلک به تجرید کړو چې تخریب غواړي؛ هغه به خلک تقویه کړو چې بیاودانول غواړي؛ هغې ورځې ته به ځانونه ژر ور ورسوو چې زموږ عسکر له افغانستان څخه را ووځي؛ او یو داسې ابدی انډیوالي سره ټینګه کړو چې امریکا ستاسو ملګری هېواد وی، نه ستاسو حامی او ولینعمت.

دریم، موږ پوره عقیده لرو چې په افغانستان کې بری تر لاسه کول د پاکستان سره زموږ په ملګرتیا پوري کلک او نه بیلیدونکی تړاو لري.

په یاد ولرئ: موږ لدې کبله په افغانستان کې یو چې د یوه سرطان مخه ونیسو او اجازه ور نه کړو چې همدا سرطان یو ځل بیا په هېواد کې خور شي. موږ باید دا هم په یاد ولرو چې همدا سرطان د پاکستان په سرحدي سیمو کې ځای پر ځای شوی دی. همدا وجه ده چې د خپل هېواد د ساتلو لپاره او د سیمی د باثباته کولو لپاره ، موږ یوې داسي ستراتیژي ته اړتیا لرو چې د پولو پر دواړو غاړو باندي کار ورکړي.

په تېرو وختونو کی، په پاکستان کي ځینو کسانو استدلال کاوه چې د افراطیت پر خلاف مبارزه په هغوی پوري اړه نلری، او د پاکستان ګټه پدې کی ده چې یا بېخی ډېر لږ پدې مسلي باندي سر خوږ کړی او یا د افراطیانو سره یوې روغې جوړې ته ورسېږي. مګر پدې وروستیو کلونو کی، پداسي حال کی چې بېګناه خلک په کراچۍ او اسلام اباد کی وژل کېږي، یوه خبره تر لمر روښانه شوه هغه دا چې افراطیانو تر بل هر چا د پاکستان خلک له جدي خطرونو او مرګ ژوبلي سره مخامخ کړي دي. اوس، د عامه ا فکارو جهت بدل شوی دی. د پاکستان پوځ په سوات او جنوبي وزیرستان کی د افراطیانو پر خلاف اغېزمن تهاجم جاري ساتلی دی. زموږ د مخکنیو اختلافاتو پر خلاف، اوس دا خبره روښانه شوېده چې پاکستان او متحده ایالات دواړه د یوه ګډ دښمن سره مواجه دي.

په تېرو وختونو کی، موږ هم اکثرا د پاکستان سره خپلي اړیکي ډېري جدي نه نیولي. هغه وختونه نور ختم شول. د پرمختګ لپاره، موږ ژمنه کړېده چې د پاکستان سره خپله ملګرتیا داسي منظمه کړو چې د متقابلو ګټو پر اساس باندي تکیه ولري، متقابل احترام پکښي وي، او متقابل اعتماد پکښي نغښتی وي. موږ ژمنه کړېده چې د پاکستان ظرفیتونه او استعدادونه غښتلی کړو څو هغه ډلي په نښه کړي چې زموږ هېوادونه تهدیدوي. موږ دغه راز په ډاګه ویلي دي چې موږ به د هغو ټرورستانو د سپب ځایونه و نه زغموچې پته ئی معلومه ده او نیتونه ئی ښکاره او څرګند دي. موږ د پاکستان د دیموکراسی او انکشاف د ملاتړ لپاره په کافي اندازه منابع برابر کړي دي، او موږ په نړیواله سطح تر بل هر چا د هغو خلکو سره ډېره مرسته کړېده چې په پاکستان کی د جنګونو له امله بېځایه شوي دي. او د پر مختګ په لاره کی، د پاکستان خلک باید پدې پوه شي: امریکا به تاسو یوازي پرې نه ږدي. د جنګونو تر ختمېدو څخه ښه ډېر را وروسته به هم موږ د پاکستان د امنیت او سعادت رښتینی ملګري یو، څو د پاکستان د خلکو ستعدادونو ته لاره ښه اواره شوې وي.

زموږ ستراتیژي دري مهم عناصر لري: د انتقالي شرایطو د برابرولولپاره پوځي هلي ځلي؛ د مثبتو اقداماتو د لا غښتلي کولو په مقصد د ملکي کسانو استخدامول؛ او د پاکستان سره یوه موثره انډیوالي ده.

زه پوهېږم چې زموږ د هلو ځلو په ارتباط یو لړ اندېښني موجودي دي. نو اجازه راکړئ چې دلته د ځینو هغو مهمو استدلانو په باب خپل نظر وړاندي کړم کوم چې ما اورېدلي دي، او کوم چې زه یې ډېر جدي نیسم.

لمړی، هلته داسي کسان سته چې وایي افغانستان یو بل ویتنام دی. هغوی استدلال کوی او وایي چې افغانستان باثباته کېدای نه شي، او زموږ خیر پدې کی دی چې ژر تر ژره خپل تلفات را کم کړو او چټک را ووځو. خو دا پوهه د تاریخ پر غلط لوست اومطالعي باندی تکیه لري. د ویتنام پر خلاف، موږ سره یو پراخ ائتلاف ملګری دی چې زموږ د اقداماتو مشروعیت مني. بله خوا، موږ په افغانستان کی د یوه پراخ او مجبوب شورش سره مخامخ نه یو.

او تر ټولو مهم، او د ویتنام پر خلاف، له افغانستان څخه پر امریکایانو باندي یوه شریره حمله وشوه، او هم هغو افراطیانو لا تر اوسه امریکایان په نښه کړي دي، او د سرحد پر دواړو غاړو باندي دسیسې کوي. د ګډوډۍ او انارشي په مینځ کی دغه سیمي خوشي کول،او له لیري ځایه القاعده په نښه کول به پر القاعدې باندي زموږ د فشار اچولو پلان او نیت له ستونزو سره مخامخ کړي، او زمو پر هېواد او زموږ پر ملګرو باندي به د اضافه بریدونو لپاره شرایط برابر کړي.

دوهم، هلته داسي کسان شته چی وایي موږ نه شوکولای چی افغانستان په اوسني حالت کي خوشي کړو، مګر وایي چی په موجوده عسکرو خپل کار مخته بوزو. خو دا به یوازي اوسنی حالت وساتی او موږ به لاس او پښې پکښې وهو، او هم به هلته حالات ورو ورو خرابېږي. د دغي مشي په پام کي نیولو سره، ما فیصله وکړه چی د اوسنی شرایطو ساتل به باالاخره ډېر ګران راته تمام شي او په افغانستان کی زموږ پاته کېدل به لا طولاني کړي، ځکه موږ به هیڅکله داسي مناسب شرایط ایجاد نه کړو چی افغاني امنیتي قوه وروزل شي څو باالاخره قدرت ورته انتقال شي.

دریم، هلته داسي کسان شته چی افغانانو ته د مسولیت د انتقالولو د تقسیم اوقات سره مخالفت کوی. په عوض کی، دوی غواړی چی په افغانستان کی زموږ جنګي فعالتیونه لا ګړندی او پراخ شي، او د ملت او حکومت د جوړولو پروسې ته متعهد شو چی ښایي یوه لسیزه وغواړي. زه دا طرح ردوم، ځکه دا طرح داسي اهداف ټاکي چی په مناسب قیمت نه شي تر لاسه کېدای، او نه هم زموږ د ګټو په تامینولو کی راسره مرسته کوي. د قدرت د انتقال لپاره د تقسیم اوقات نه درلول به د افغانستان د حکومت سره زموږ د همکاری لپاره هیڅ فوریت او ضرورت په پام کی و نه نیسی. دا باید روښانه وي چی هغوی مجبوره دي د خپل امنیت مسولیت ومني، او پدې پوه شي چی موږ غواړو دا جنګ ختم کړو. ځکه امریکا ددې تکل نلری چی په افغانستان کی نه تمامېدونکی جنګ ته دوام ورکړی. زه نه غواړم چی داسی اهداف وټاکم چی تر مسولیت، امکاناتو، او ګټو څخه بهر او ناممکن کار وي.

حقیقت دا دی چی د جمهوررئیس په حیث زه باید ټول هغه چلنجونه په غور مطالعه کړم چی زموږ ولس ورسره مخامخ دی. زه ددې چانس او فرصت نلرم چی یوازی د یوه چلنج په باره کی فکر وکړم. زما د جمهوررئیس ایزنهاور هغه خبري په یاد دي چی ویلي وو، «هر وړاندیز باید د عمومي ملاحظاتو په رڼا کی مطالعه شي: ضرورت دا دی چی د ملی پروګرامونو په منیځ کی باید انډول وساتل شی.»

پدې تېرو کلونو کی، موږ همدا انډول له لاسه ورکړی وو، او موږ و نه کړای شو چی د خپل ملي امنیت او اقتصاد تر مینځ روابط کشف او بررسي کړو. د اقتصادی بحران په جریان کی، زموږ زیاتره ملګري او ګاونډیان بېکاره شوي دي، هغوی د خپلو لګښتونو د پوره کولو توان نلری، او ډېری امریکایان د خپلو بچیانو د راتلونکي په باب اندېښمن دي. په عین زمان کی، په نړیوال اقتصاد کی رقابت لا ګړندی او ګران شوی دی. همدا وجه ده چی موږ نه شو کولای چی د جنګ لګښتونه هېر کړو.

هله چی ما لوړه یاده کړه د عراق او افغانستان د جنګونو لګښت یو ټریلیون ډالرو ته رسېدلی وو. زه غواړم چی د همدې لګښتونو په هکله سپیني خبري وکړم. په افغانستان کی زموږ نوې ستراتیژي به ښایي سږ کال ۳۰ بیلونه ډالره وغواړي، او زه به د کانګرس سره د همدې لګښتونه په اړه همکاري وکړم څو د بودجې کسر را کم کړو.

موږ غواړو د عراق جنګ پای ته ورسوو او افغانانو ته مسولیت ور انتقال کړو، او مجبوره یو چی پخپل هېواد کی خپل طاقت بېرته جوړ کړو. ځکه زموږ اقتصادی پر مختګ او سعادت باید زموږ د طاقت بنسټ وی. همدا زموږ د پوځ مصارف تامینوی. همدا زموږ د پلوماسۍ ته قوت او طاقت ورکوی. همدا زموږ د خلکو توان او استعداد را سپړي، او په نویو صنعتونو کی پانګه اچولو ته اجازه ورکوي. همدا به موږ ته ددې فرصت په لاس راکړی چی بڼې پېړۍ کی هغسي په بریالیتوب رقابت وکړو لکه چی په تېره پېړۍ کی مو کړی وو. همدا وجه ده چی په افغانستان زموږ د عسکرو تعهد او پاته کېدل بې پایانه کېدای نه شي، ځکه زه تر بل هر ځای یوازي د خپل ولس د جوړولو په اړه زیاته علاقه لرم.

زه پوهېږم چی همدا جنګ د ډېرو خلکو لپاره په ډېر سخت وخت کی دوام لري. او زه به تر هغه وخت پوري ارام کښېنه نم ترڅو موږ یو داسي اقتصادی رونق نوی راوستی چی د اقتصادی انکشاف لپاره زمینه برابر کړی او چی زموږ خلکو ته ددې فرصت برابر کړی چی خپل خیالونه په واقعیت بدل کړی او زموږ ولس خپل منزل مقصود ته ورسېږي. ځکه زه تر بل هر ځای یوازي د خپل ولس د جوړولو په اړه زیاته علاقه لرم.

مګر پام کوئ: چې موږ باید د خپل امنیت او اقتصاد تر مینځ غلط انتخاب و نه کړو. د افراطیانو پر خلاف مبارزه د افغانستان او پاکستان تر پولوښه ډېره ها خوا ته تېره شوې ده. حقیقت دا دی چې دا مبارزه به زموږ لپاره چې یوه ازاده ټولنه یو لوی ازمویښت وي، او هم به په نړی کی زموږ د مشرتابه د ارادې او تکل لپاره ستر ازمویښت وی. د شلمې پېړی د جنګونو پر خلاف چې ستر طاقتونه په مشخصو صفوفوکی د یو بل په مقابل کی ولاړ وو، زموږ مبارزه به په ګډوډو سیمو او د تیت و پرک دښمن سره وي.

په نتیجه کی، امریکا باید خپل طاقت او زور د جنګونو په ختمولو او مخنیوی کی وښیي، نه د جنګونو په پیلولو کی. موږ مجبوره یو چې د خپل پوځي طاقت په کارولو کی دقیق او محتاط و اوسو. هر ځای چې القاعده او ملګری یې د ټېک ځای انتخابوی – که چیرې دا په سومالیا یا یمن کی وی – د هغوی سره باید خامخا د زیات فشار او ټینګو ملګرو په مټ مبارزه وشی. موږ یوازې پر نظامي طاقت باندی تکیه نه شو کولای. موږ مجبوره یو چې د خپل ملک په امنیت کې پانګه واچوو، ځکه موږ نه شو کولای چې په بهر کی هر افراطي مړ او یا ونیسو. موږ هرومرو باید خپل استخبارات لا ټینګتلي او تقویه کړو، په فدرالي سطح خپلي هلي ځلي منظمي او یوموټي کړو، او ایالتونه او محلی حکومتونه باید تر دغو مرموزو شبکو یو ګام مخکی وی.

موږ باید د عامي تباهی وسایل ختم کړو. همدا وجه ده چې له ترورستانو څخه د ذره وي موادو خوندی کول مي د خپلی خارجي پالیسی مهمه او محوري برخه ګرځولي ده؛ څو د ذره وی وسلو خورېدل ختم کړو؛ او پرته له ذره وي وسلو څخه د یوه جهان د جوړولو تکل وکړو. ځکه هر ولس باید باالاخره پدې پوه سی چې واقعی امنیت به هیڅکله د عامي تباهی په لاسته راوړلو کی تر لاسه نه شی. واقعي امنیت به د هغو خلکو په برخه شي چې همدا وسلې ردي کړی.

موږ باید له ډیپلوماسی څخه کار واخلو، ځکه هیڅ ولس په یوازی سر نه شی کولای چې ددغه وصل شوي جهان چنلجونه یوازي پخپله رفع کړی. ما سږ کال د خپل ائتلافونو په باب تجدید نظر وکړ او نوي ملګري مي پیدا کړل. څرنګه چې د افراطیت پر ضد مبارزه په نهایت کی د خیال او فکر په ډګو کی مبارزه ده، موږ مجبوره یو چې د امریکا او اسلامی نړیٔ تر مینځ یو نوی فصل پرانزو. داسي فصل چې د جنګ د شریري دایرې دماتولو لپاره زموږ متقابله ګټي ومني، او د یوه داسي مستقبل زیری ولری چې هغه افراطیان چې بېګناه خلک وژنی، هغوی د هغو خلکو لخوا منزوی او تجرید شی چې د سولي، سعادت او انسانی کرامت لپاره مبارزه کوی.

او باالاخره، موږ باید د خپلو اصولو څخه قوت تر لاسه کړو، ځکه هغه ستونزي چې موږ ورسره مخامخ یو ښایي بدلي شوي وي، مګر په هغو شیانو چې موږ عقیده لرو، هغه باید بدل نه شی.

موږ باید ازادي او عدالت ترویج کړو او پخپل کور کی یې عملي کړو. همدا وجه وه چې ما شکنجه کول منع کړل او هم به د ګوانتانامو محبس وتړم. موږ مجبوره او مکلف یو چې په نړی کی هر سړی، ښځې، او ماشوم چې د استبداد تر چړې لاندی ژوند کوی دا ورته په ډاګه کړو چې امریکا به د هغوی د بشر د حقوقو لپاره خپل ږغ جګ کړي، او هم به د ازادی مشال روښانه وساتی، او هم به د عدالت او د ټولو بني ادمانو د انساني کرامت دفاع کړي. همدا زموږ وظیفه ده. همدا موږ مشخصوي. همدا د امریکا د صلاحیت او طاقت اخلاقی زېرمه ده.

د فرانکلین روزوېلټ له وخت څخه را پدې خوا، او زموږ د پلرونو او نیکونو له خدمت او قربانیو څخه را وروسته، زموږ ملک په نړیوالو مسایلو کی یو خاص مقام او مسولیت اشغال کړی دی. موږ د مختلفو قارو په هېوادونو کي د امریکایانو وینې تویې کړي دي. موږ پخپلو پیسو د نورو خلکو سره مرسته کړي ده چې خپل هېواداو اقتصاد بېرته جوړ او اباد کاندي. موږ د نورو خلکو سره په ګډه نړیوال موسسات لکه ملګري ملتونه، ناټو، او نړیوال بانک تاسیس او جوړ کړیدي، کوم چې د ټولو بني ادمانو لپاره امنیت او سعادت برابر وي.

موږ څخه ددغه کارونو په بدل کي تل مننه نه ده شوې، او وخت نا وخت موږ اشتباهات هم کړي دي. خو د بل هر ملت په پرتله، د امریکا متحده ایالاتو د شپږو لسیزو په ترڅ کی د نړی امنیت ساتلی دی. پدې وخت کی، د بېلټون درانه دیوالونه ړنګ شوي دي، مارکېټونه ازاد شوي دي، په بیلونهاوو کسان له فقر او نیستی څخه ژغورل شوي دي، او د بني ادمانو په ازادی او ساینس او تکنالوژی په پرمختګ کی مهم ګامونه اخیستل شوي دي.

د نورو لرغونو طاقتونو پر خلاف، موږ پر جهان باندي تسلط او حاکمیت ندی غوښتی. زموږ ولس د ظلم او استبداد پر ضد په مقاومت کی وزېږدی. موږ نه غواړو چی د نورو خلکو هېوادونه اشغال کړو. موږ به د بل ولس منابع خپلي نه کړو، او نه به هم نور خلک د هغوی د عقایدو او نژاد په خاطر په ښنه کړو. د څه لپاره چی موږ جنګېدلي یو، او د څه لپاره چی جنګېږو، هغه زموږ د ماشومانو لپاره یوه ښه راتلونکي ده. موږ باور لرو چی زموږ د ماشومان ژوند به هله بهتره وی چی نورو د خلکو کوچینیان او لمسیان په ازادی کی ژوند وکړي.

د یوه هېواد په حیث، موږ نه نور هغسی ځوان یو—او نه هم ښایي هغسي بېګناه یو—لکه کله چی ښاغلی روزوېلټ جمهوررئیس وو. خو بیا هم موږ د ازادی لپاره د یوې پاکي مبارزې وارثان یو. او اوس موږ مجبوره یو چی خپل ټول طاقت او اخلاقي قدرت سره راغونډ کړو څو د خپل عصر چلنجونو ته جواب ووایو.

په نهایت کی، زموږ امنیت او مشرتابه یوازی زموږ د وسلو او پوځي طاقت بهمت نه شي تامینېدلای. بلکی زموږ امنیت زموږ په خلکو کي نغښتی دی – په هغو کارګرانو او کاروبارونو کي نغښتی دی چی غواړی زموږ اقتصاد یو ځل بیا راجوړ کړي. په هغو مبتکرانو او څېړونکو کی پروت دی چی غواړی نوي صنعتونه خلق او کشف کړي. په هغو معلمانو کی نغښتی دی چی زموږ بچیان را رزوي؛ اود هغو خلکو په خدمتونو کي پروت دی چی غواړی زموږ په ټولنه کی کار او خدمت وکړي. په هغو دیپلوماتانو او د سولي په رضا کارانو کي نغښتی دی چی هیلي خوروي. او په هغو نارینه او ښځینه عسکرو کی پروت دی چی د خدمت اوږده سابقه لری، او دیوه داسې حکومت په جوړولو کي یې مرسته کړې ده چی په خلکو پوري اړه لري، خلکو جوړ کړی دی، او د خلکو لپاره دی.

زموږ متنوع او پراخ ولس به مدام پر هري مسلي باندی توافق سره و نلری، خو نه هم باید موږ تل موافقه سره ولرو. مګر زه پدې هم پوهېږم چی د یوه ملک په حیث موږ نه شو کولای چی خپل مشرتابه ته دوام ور کړو، موږ نه شو کولای چی د خپل وخت ستونزو سره مبارزه وکړو، که چیري مو ږ اجازه ورکړو چی د وروستیو وختونو جنجالونه زموږ ملي بحث را زهرجن کړی.

ستاسو به په یاد وی کله چی همدا جنګ پیل شو، موږ یو موټي وو – موږ یوې وحشي حملي سره متحد کړی وو، او موږ هغه تعهد سره یوموټي کړو چی دخپل ملک د ساتلو لپاره مو کړی وو. زه نه شم کولای چی دا ومنم چی موږ بیا هغه اتحاد نه شو لاسته راوړلای. زه پخپله باور لرم چی موږ امریکایان اوس هم د یوه ګډ هدف او مرام لپاره سره متحد کېدای شو. ځکه زموږ ارزښتونه یوازي د کاغذ پر مخ لیکل شوي کلمي ندي، بلکي هغه ارزښتونه دی چي موږ عمل او اقدام ته ور بولي، کوم چی موږ یې په ډېرو بحراني حالاتو کی د یوه ملت په توګه سره یوموټي کړی یو.

امریکا --- موږ تر یو ستر ازموینت تېرېږو. هغه پیغام چی موږ ددغه توپاني دورې په ترڅ کي استوو هغه باید روښانه وی: هغه دا چی زموږ هدف او مرام پاک دی، او زموږ ارادې نه اېلېدونکي دي. موږ به پرمختګ کوو او دا اطمینان به لرو چی حق غښتلی دی. موږ ددې ژمنه کړېده چی امریکا به په امن کي ساتو، نړی به په امن کی ساتو، او یو داسي راتلونکي به جوړوو چی ډار نه خوروي بلکی هیله او رڼا خوروي.

ډېره مننه. خدای مو وساته. خدای دې د امریکا د متحده ایالاتو مل او ملګری وي. ډېر تشکر. ډېره مننه.